**مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی**
**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۷۲** (از ۲۸ میزان الی ۵ عقرب ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**د ملا برادر خوشي کېدل او د افغان سولې په اړه نوي پرمختگونه**

د سولې وروستي پرمختگونه ........ ۴

د ملا برادر خوشي کېدل ........ ۵

د افغان سولې په تړاو د پټو معاملو تورونه ........ ٦

**کاستی‌ها و چالش‌های انتخابات ولسی جرگه**

انتخابات دیرهنگام ولسی جرگه ........ ۹

بی‌نظمی و انواع تقلب در انتخابات ........ ۱۰

نتیجه‌گیری ........ ۱۱

## مقدمه

په افغانستان کې د رواني جګړې د پای ته رسولو او د سولې ټینګښت لپاره له نژدې یوې لسیزې راهیسې رواني هڅې اوس مهال یو څه هیله بښونکې حالت ته رسېدلې دي. امریکا چې روانه جګړه یې پیل کړې ده، اوس‌مهال دې پایلې ته رسېدلې چې د افغانستان جګړه نظامي حل‌لاره نه، بلکې سوله‌ییزې او د خبرو اترو له لارې د جوړجاړي حل‌لارې ته اړتیا لري.

همدا لامل دی، چې د امریکا له لوري د افغان سولې بهیر د پرمخ وړلو لپاره د زلمي خلیلزاد له ټاکل کېدو وروسته له طالبانو سره د سولې په موخه هڅې تر یوه بریده چټکې شوې دي. په یوه تازه ګام کې د پاکستان له لوري د دریو لوړپوړو طالب چارواکو خوشې کېدل په دې تړاو د یادولو وړ دي. په دغو درېو طالب چارواکو کې ملا برادر بیا هغه کس دی، چې ګومان کېږي د رواني جګړې د پای ته رسولو لپاره د رغنده ګامونو په اخیستلو کې رول لوبولی شي.

له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو د پیل په موخه د هېواد او سیمې په کچه وروستۍ هڅې، په پاکستان کې له زندانه د ملا برادر خوشې کېدل او د افغان سولې پر پروسه یې اغېزې هغه موضوعات دي چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د تحلیل اوونۍ په لومړۍ برخه کې پرې بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه مو په افغانستان کې د ولسي جرګې د ټاکنو موضوع ته ځانګړې کړې ده. تېره اوونۍ له درې کلن ځنډ وروسته بالاخره حکومت پر دې بریالی شو، چې د ولسي جرګې ټاکنې وکړي؛ خو بیا هم له ګڼو ننګونو او ستونزو سره مل وې. له یوې خوا په هغو سیمو کې چې د وسله‌والو مخالفینو تر کنترول لاندې دي، له سره ټاکنې ونه شوې او له بلې خوا د دولت ترکنټرول لاندې سیمو کې هم سره له دې چې خلک په پراخه کچه د رایې ورکولو په موخه له کورونو را ووتل؛ خو له ناامنۍ ورهاخوا په ټاکنیز بهیر کې بې نظمي، درغلي او د زورواکو مداخلې هغه څه وو چې دغه پروسه یې ټکنۍ او خلک یې له ستونزه سره مخ کړل.

# د ملا برادر خوشې کېدل او د افغان سولې په اړه نوي پرمختګونه



د ملي يووالي حکومت له رامنځته کېدو وروسته، د تېر په پرتله د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو د پيل په موخه، ډېرې هڅې وشوې؛ خو دغو هڅو د څلورو کلونو په تېرېدو سره کومه رغنده پايله ونه لرله او دا پروسه په يو ډول له بن بست سره مخ شوه، چې له امله يې په وروستيو کې د امريکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پيل په موخه ځينې ګامونه واخيستل شول.

د دغو ګامونو پر دوام، باور دا دی، چې په پاکستان کې له زندانه د ملا برادر په ګډون د طالبانو د دريو مهمو چارواکو خوشې کېدل او د هېواد دننه د يو شمېر نورو پېښو رامنځته کېدل ـ چې په ملي او نړيواله کچه هم د خلکو پام ور اوښتی دی ـ هغه ګامونه دي چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پيل په موخه اخيستل کېږي؛ خو افغان حکومت بيا د امريکا او طالبانو ترمنځ د خبرو وروستۍ هڅې، يوازې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پيل په موخه بولي.

که څه هم د افغان سولې په اړه ډېر بحثونه کېږي؛ خو په وروستيو کې يې ځينې خواوې خورا پېچلې او ګونګې ښکاري. دا چې د سولې په تړاو وروستي پرمختګونه يا اخيستل شوي ګامونه څه دي، له زندانه د ملا برادر خوشې کېدل به د سولې بهير ته څه ورکړي او په ټوليز ډول دا پروسه اوسمهال په کوم لوري روانه ده؟ هغه پوښتنې دي چې دلته يې د ځوابولو هڅه شوې ده.

## د سولې وروستي پرمختګونه

د افغان سولې په تړاو د وروستیو هڅو او پرمختګونو په اړه ګومان دا دی، چې د زلمي خلیلزاد له ټاکل کېدو وروسته له طالبانو سره د سولې په تړاو پر ښکاره هڅو سربېره د پردې ترشا هم ځینې پټ ګامونه اخیستل شوي دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له لوري نږدې دوه میاشتې وړاندې زلمی خلیلزاد په دغه وزارت کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو د رهبرۍ لپاره د ځانګړي سلاکار په توګه وګومارل شو. نوموړي د خپل نوي ماموریت پیل د افغان سولې په تړاو د همغږۍ رامنځته کولو په موخه د افغانستان په ګډون پنځو هېوادونو (افغانستان، پاکستان، سعودي عربستان، متحده عربي امارات او قطر) ته په لس ورځني سفر سره وکړ.

خلیلزاد افغانستان ته د سفر پر مهال له افغان ولسمشر او اجرائیه رئیس سره پر کتلو سربېره، له یو شمېر افغان سیاستوالو، جهادي مشرانو او د افغانستان په سیاسي ډګر کې مطرح څېرو سره هم خبرې اترې وکړې او د افغانستان دننه یې له طالبانو سره د سولې د خبرو د څرنګوالي په باب د سیاستوالو او جهادي رهبرانو د نظرونو جاج واخیست.

نوموړی، سره له دې چې د پاکستان سرسخت منتقد امریکایي سیاستوال هم دی، خو د خپل ماموریت په لړ کې یې اسلام‌آباد ته هم سفر وکړ او له پاکستاني چارواکو سره یې د افغان سولې په باب خبرې وکړې. خلیلزاد پر پاکستان غږ وکړ، چې له افغان حکومت سره د سولې په برخه کې همکاري وکړي.

پر پاکستان سربېره زلمي خلیلزاد سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او قطر ته هم سفرونه وکړل. له دغو سفرونو داسې انګېرل کېږي، چې نوموړی هڅه کوي، ترڅو د دغو هېوادونو په همکارۍ له یوې خوا طالبان د سولې خبرو ته وهڅوي او له بلې خوا د همدغو هېوادونو، په ځانګړې توګه د سعودي عربستان په مرسته اسلام‌آباد هم د افغانستان د سولې په قضیه کې رېښتنې همکارۍ ته وهڅوي.

پر دې ټولو سربېره له طالبانو سره د سولې د خبرو په اړه د تازه هڅو په برخه کې یو هم د قطر دفتر ته اهمیت ورکول دي. ځکه د ډونالډ ټرمپ له راتګ وروسته داسې اوازې وې چې ښایي په قطر کې د طالبانو شته دفتر وتړل شي؛ خو د یوه کال په تېرېدو سره داسې برېښي چې د قطر دفتر د سولې په قضیه کې محوري رول خپل کړی دی. ځکه له تېرو څو میاشتو راهیسې د افغان سولې په تړاو قطر ته د امریکایي چارواکو سفرونه او له

طالب چارواکو سره د دوی ليدنې زياتې شوې دي. په وروستيو کې قطر ته د زلمي خليلزاد سفر او له طالب چارواکوسر ه يې خبرې، دغه راز د دې خبرو د پخلي په اړه د طالبانو له لوري اعلاميه خپرول او د خبرو له لارې د افغان قضيې د حل په اړه د طالبانو خوشبيني، ټول هغه څه دي چې ښيي امريکا له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو په لور د تگ په حال کې ده او هيلې دا دي چې پايلې به يې هم مثبتې وي.

## د ملا برادر خوشې کېدل

له طالبانو سره د سولې په تړاو د سيمه‌ييزو هڅو او پرمختگونو پر دوام شنونکي په دې اند دي، چې په پاکستان کې له زندانه د مهمو طالب چارواکو، په ځانگړې توگه د ملا عبدالغني برادر خوشې‌کېدل، د دغو هڅو او پرمختگونو يو هيله‌بښونکی او مثبت گام دی.

ملا عبدالغني برادر، چې څو ورځې وړاندې په پاکستان کې له زندانه ازاد شو، د ارزگان ولايت اوسېدونکی دی. نوموړی له هغو څلورو کسانو څخه يو و، چې په ۱۹۹۴م کال کې يې د طالبانو تحريک پيل کړ، برادر د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د ملا محمد عمر مرستيال، د هرات والي او د دغه تحريک لوی درستيز هم پاتې شوی دی.

په ۲۰۰۱م کال کې پر افغانستان د امريکا له يرغل او د طالبانو د رژيم له نسکورېدو وروسته، ملا برادر د وسله‌والو طالبانو د مقاومت د يو مهم غړي په توگه د بهرنيو ځواکونو او افغان حکومت پر وړاندې جگړه پيل کړه، چې وروسته له نهو کلونو په ۲۰۱۰ م کال کې د پاکستان په کراچۍ ښار کې د پاکستاني استخباراتو او امريکايي ځواکونو له لوري ونيول شو. د نوموړي د نيولو په اړه ويل کېږي؛ ملا برادر ځکه د پاکستان له‌خوا ونيول شو، چې هغه غوښتل له افغان حکومت سره خبرې وکړي.

که څه هم پاکستان له زندانه د ملا برادر د خوشې کېدو خبر په ۲۰۱۳م کال کې هم خپور کړ، خو هغه مهال دا خبر د نوموړي کورنۍ ته نږدې کسانو او طالبانو رد کړ؛ خو تازه په پاکستان کې د ملا برادر په گډون د دريو طالب چارواکو د خوشې کېدلو خبر داسې مهال خپرېږي، چې په وروستيو کې له طالبانو سره د سولې په اړه خپله امريکا هڅې پيل کړې دي او له همدې کبله ويل کېږي چې ملا برادر د امريکا په غوښتنه د قطر هېواد د بهرنيو چارو وزير په همکارۍ خوشې شوی دی. ځکه تېره اوونۍ د قطر د بهرنيو چارو وزير اسلام اباد ته سفر کړی او له عمران خان سره يې ليدلي وو.

په ټوله کې ویلی شو چې په پاکستان کې له زندانه د ملابرادر خلاصون که د سولې په خبرو کې د باور جوړونې لپاره وي، نو دا بیا یو مثبت گام دی. له بلې خوا نوموړی د طالبانو په تحریک کې یو پوخ سیاستوال، اغېزلرونکی او په ټوله کې د سولې او روغې جوړې طرفداره کس دی، له همدې کبله داسې تحلیلونه هم شته، چې ښایي نوموړی په دې تمه خوشی شوی وي، چې له افغان حکومت سره د طالبانو د مخامخ خبرو اترو د پیل لپاره کار وکړي.

## د افغان سولې په تړاو د پټو معاملو تورونه

د دې ترڅنګ چې په پاکستان کې له زندانه د ملا برادر او دوو نورو طالب چارواکو خلاصون، د افغان سولې په تړاو د پرمختګ او د سولې لپاره د معاملې یوه برخه گڼل کېږي، داسې په افغانستان کې دننه هم د وروستیو پېښو په تړاو ځینې تورونه شته دي. په دغه برخه کې څو ورځې وړاندې د کندهار امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق د وژل کېدو د پېچلې قضیې په تړاو مختلف غبرگونونه ولیدل شول.

جنرال عبدالرازق د کندهار ولایت مقام په داخل کې د یوې مهمې ناستې له پای ته رسېدو وروسته ووژل شو. دا چې په دې ناسته کې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو عمومي قومندان سکاټ میلر او ځینې نورو بهرنیانو هم حضور درلود، د نوموړي له وژل کېدلو سره په پراخه کچه داسې ګنګوسې هم خپرې شوې چې ګواکې د مرګ تر شا یې د امریکا او افغان حکومت لاس دی او نوموړی د یوې دسیسې ښکار شوی دی.

همدا لامل و، چې په ټولنیزو رسنیو کې د امریکا پر ضد له غوسې ډک فعالیت پیل شو او داسې ویل کېږي چې حکومت او امریکایي چارواکو د دې قضیې په باب د خلکو د قهر د سړولو او له ذهنیت اړولو هڅې هم پیل کړې دي. د ولسمشر او اجراییه رئیس په ګډون ګڼ شمېر دولتي او سیاسي چارواکي د نوموړي فاتحې ته کندهار ته ورغلل. دغه راز په ډېرې ولایتونو کې د نوموړي فاتحه واخیستل شوه. دا هرڅه داسې مهال دي، چې نوموړی هغه څوک و چې د بشري حقونو د نقض له امله د ملګرو ملتونو سازمان د شکنجې ضد کمېټې په یوه راپور کې د هغه پر کړنو جدي نیوکې کړې وې، دغه‌راز سره له دې چې نوموړی د هېواد په سوېل کې یو ځواکمن شخص بلل کېده؛ خو بیا هم د دولت په چوکاټ کې د یوه ولایت امنیه قوماندان و او په تېر کې د داسې پېښو غم دومره دروند نه و ښودل شوی.

په ټوله کې داسې ښکاري چې امریکا هڅه کوي تر څو په خپله هغه کار ترسره کړي، کوم چې افغان حکومت په نږدې یوه لسیزه کې پرې ونه توانېد. له طالبانو سره د سولې په پار د افغان حکومت له هڅو را وروسته، امریکا خپله له طالبانو سره خبرې پیل کړې او د ۱۷ کلونو په تېرېدو دې پایلې ته ورسېده چې روانه جګړه یوازې د خبرو له لارې پای ته رسېدلی شي.

په دې هڅو کې د ملابرادر او دوو نورو طالب چارواکو خوشې کېدل هیله بښوونکی ګام دی. څکه داسې ویل کېږي چې ملا برادر به قطر ته ولاړ شي او د طالبانو له لوري به د سولې په خبرو کې برخه واخلي. له دې سره که چېرې ملا برادر د طالبانو له لوري د سولې خبرو ته راګډ شي او په دې برخه کې هڅې وکړي، اغېز به یې ډېر وي او د خبرو د پیل لپاره به د باور په موجودیت کې یوه پروسه پیل شي.

پر دې ټولو سربېره، په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره له پاکستانه علاوه، د سیمې ځینې نور هېوادونه لکه: ایران، روسیه او چین هم اغېزناک رول لوبولی شي؛ خو دا چې دغه هېوادونه په افغانستان کې د امریکا له حضوره په وېره کې دي او د امریکا حضور د سیمې لپاره ګواښ ګڼي، اړتیا ده چې په افغانستان کې د سولې په موخه د دغو هېوادونو د ریښتنې همکارۍ لپاره د دوی باور تر لاسه شي. د دې باور ترلاسه کولو لپاره اړتیا ده چې امریکا له هرې ممکنې لارې کار واخلي او د خپل حضور په اړه د دغو هېوادونو بدګماني له منځه یوسي. که څه هم اوسمهال داسې ښکاري، چې د دغو هېوادونو رول له پامه غورځول شوی دی. پای

# کاستی‌ها و چالش‌های انتخابات ولسی جرگه



انتخابات ولسی جرگهٔ افغانستان، هفتهٔ گذشته در ۲۸ و ۲۹ میزان سال جاری خورشیدی با وجود تمام چالش‌های امنیتی، به جز دو ولایت، در تمام کشور برگزار گردید و صدها هزار افغان به هدف رأی دادن به کاندید مورد نظر خویش، به پای صندوق‌های رأی رفتند.

رئیس جمهور اشرف غنی پس از پروسهٔ رای‌دهی در پیامی از این پروسه و اشتراک مردم ستایش نمود و گفت: «شما از طریق رأی به جهان نشان دادید که خشونت را نمی‌خواهید، شما با تمام قدرت ارادهٔ تانرا تمثیل کرده و در برابر زور تسلیم نشدید.»

در انتخابات ولسی جرگه علاوه از تهدیدات امنیتی و تهدید مستقیم طالبان، بی‌نظمی در کار کمیسیون، مداخلهٔ زورمندان و انواع مختلف تقلب در مراکز رأی‌دهی، از جمله مشکلاتی این پروسه بودند که مردم و ارگان‌های ناظر بر این پروسه از آن شکایت داشتند.

برگزاری انتخابات ولسی جرگه، چالش‌ها و مشکلات موجود در پروسهٔ انتخابات و سیستم رأی‌دهی از مواردی اند که در این تحلیل روی آن پرداخته شده است.

## انتخابات دیرهنگام ولسی جرگه

برگزاری انتخابات ولسی جرگه یکی از تعهدات حکومت وحدت ملی بود که با گذشت جنجال‌ها و مخالفت‌های سیاسی زیادی، سر انجام پس از سه سال تأخیر حکومت توانست تا آن را با وجود تمام مشکلات و چالش‌های امنیتی برگزار کند.

به گفتۀ کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، در انتخابات ولسی جرگه به جز ولایت‌های غزنی و قندهار حدود چهار میلیون نفر اشتراک کردند و به ۲۵۷۰ نامزد ولسی جرگه رأی دادند.

انتخابات ولسی جرگه در ولایت غزنی بدلیل تنش‌های سیاسی در رابطه به حوزوی شدن انتخابات و دلایل امنیتی به تعویق افتاد و به گفتۀ کمیسیون انتخابات افغانستان، انتخابات در این ولایت همزمان با انتخابات ریاست جمهوری برگزار خواهد شد؛ ولی در ولایت قندهار بعد از حمله بر قوماندان امنیه، والی و سایر مقامات این ولایت در مقام این ولایت ـ که در آن جنرال عبدالرازق، قوماندان امنیه و مومن حسین خیل، رئیس امنیت ملی این ولایت کشته شدند ـ برای یک هفته به تعویق افتاده شد.

حامدکرزی رییس جمهور پیشین کشور در گفتگویی با رادیو صدای امریکا گفته است: «وضعیت کنونی افغانستان مناسب انتخابات ولسی جرگه نبود و خوب می‌بود که این انتخابات با انتخابات ریاست جمهوری و یا هم پس از آن برگزار می‌شد.» از سوی دیگر رییس جمهور اشرف غنی برگزاری انتخابات را ستایش کرده و آن را یک گام مهمی در راستای تامین دموکراسی خوانده است. عبدالله عبدالله، رییس اجراییه کشور نیز برگزاری انتخابات ولسی جرگه را یک گامی رو به جلو و موفقیت بزرگ خوانده و افزوده است: «با آنکه بایومتریک شدن رأی دهندگان به منظور شفافیت انتخابات یک گام مثبت است؛ اما نارسایی‌های نیز وجود داشت که حکومت، کمیسیون‌های انتخاباتی، نهادهای ناظر و جامعه جهانی همه مسؤولیت دارند که نارسایی‌های موجود را جبران کنند.»

طالبان دو زور قبل از برگزاری انتخابات با نشر اعلامیه‌ای، آن را یک پروسه و دسیسۀ امریکایی خوانده و مردم را از اشتراک در این پروسه منع کردند؛ اما مردم در ساحات تحت کنترول حکومت با همه تهدیدات و حملات مخالفین در این پروسه اشتراک نمودند و برای کاندیدان مورد نظر خویش رأی دادند.

با آنکه حکومت افغانستان برای تأمین امنیت مردم در پروسۀ انتخابات ٦٦ هزار نظامی را مؤظف کرده بود؛ اما به گفتۀ وزارت امور داخله در روزهای انتخابات ۱۹۲ حادثۀ امنیتی رخ داده که در آن ۳٦ فرد ملکی و نظامی

کشته و ۱۲۰ فرد ملکی و نظامی زخمی شده‌اند. از سوی دیگر طالبان ادعا می‌کنند که در مناطق مختلف کشور در روزهای انتخابات بیش از چهارصد حمله را انجام داده که در نتیجۀ آن ده‌ها تن کشته و زخمی شده شده‌اند.

## بی‌نظمی و انواع تقلب در انتخابات

با آنکه انتخابات ولسی جرگه حدود سه سال به تأخیر برگزار شد، اما باز هم همراه با بی‌نظمی و انواع گوناگون تقلب بود. در دو زور انتخابات ولسی جرگه بیش از ۵۰۰۰ هزار شکایت در کمیسیون شکایات انتخاباتی به ثبت رسیده است و این خود نشان دهندۀ وجود فساد و تقلب گسترده در این پروسه می‌باشد.

در مورد بی‌نظمی و مشکلات موجود در روزهای رأی‌دهی چند مورد عمدۀ ذیل قابل ذکر است:

- **دیر باز شدن شماری از مراکز رأی‌دهی**؛ با آنکه رئیس جمهور غنی در اولین روز انتخابات، ساعت هفت صبح بگونۀ رسمی رأی داد و پروسۀ رأی‌دهی انتخابات ولسی جرگه را آغاز کرد؛ اما در کابل و برخی دیگر ولایات کشور، شماری از مراکز رأی‌دهی با تأخیر ۴ و ۵ ساعته باز شدند که باعث ساعت‌ها انتظار مردم شد. بدلیل همین تأخیر، کمیسیون مستقل انتخابات اعلام کرد، مراکزی که تا ساعت یک بعد از ظهر در زور نخست رأی‌دهی باز نشده‌اند برای روز دوم نیز پروسۀ رای‌دهی در آن مراکز ادامه خواهد داشت.
- **بی‌نظمی در مدیریت کارمندان کمیسیون**؛ عدم مدیریت درست پروسه از سوی کارمندان کمیسیون مستقل انتخابات باعث شد که لیست‌های رأی‌دهی یک ولایت به ولایت دیگر یا یک مرکز به مر کز دیگر انتقال شود. بر اساس برخی گزارش‌های رسانه‌ها در روز نخست انتخابات، لیست رأی دهندکان ولایت بامیان به هرات ارسال شده بود، همچنان در بسیاری مراکز رأی‌دهی نام‌های افرادی که قبلاً در همان مراکز ثبت نام کرده شده بودند در لیست رأی دهنده گان وجود نداشت که بدلیل آن شماری از مردم رأی دادن نیز محروم شدند. علاوه بر این، عدم کارکرد ماشین‌های بایومتریک و یا هم نبود توانایی استفاده از این ماشین‌ها در کارمندان کمیسیون انتخابات، یکی دیگر از مواردی بود که این پروسه را با مشکلات مواجه کرده بود.

- **مداخلۀ زورمندان و انواع تقلب در پروسۀ انتخابات**؛ مداخلۀ زورمندان در هنگام رأی‌دهی یکی از چالش‌های دیگر در برابر این پروسه بود. کمیسیون مستقل انتخابات خود می پذیرد که شماری از افراد زورمند در پروسۀ انتخابات دخالت کردند و نیز برخی صندوق‌های رأی‌گیری توسط آنان شکسته شده‌اند.

  بر بنیاد گزارش‌های رسانه‌ها نیز دیده می‌شود که در برخی مراکز رأی‌دهی بخصوص در ولایات کشور، روزمندان و برخی قوماندانان محلی نظامی در روند رأی‌دهی مداخله کرده و به نفع افراد مورد نظر خویش صندوق‌های رأی را پر کردند.

## نتیجه‌گیری

هرچند بی‌اعتمادی گسترده در مورد برگزار شدن این انتخابات به دلیل عدم مساعد بودن وضعیت کشور برای اجرای این پروسه و مخالفت گستردۀ احزاب سیاسی با نزدیک شدن انتخابات، حتی الی روز انتخابات نیز وجود داشت؛ اما انتقادهای وسیعی به سطح ملی و بین‌المللی به دلیل تمدید ولسی جرگه به مدت سه سال غیرقانونی و عوامل دیگر حکومت افغانستان را ناگزیر ساخته بود تا این انتخابات را با همه کاستی‌ها، تهدیدها و چالش‌ها انجام دهد.

با آنکه ناامنی و عدم حاکمیت دولت بر تمام جغرافیای کشور، باعث شد که انتخابات ولسی جرگه افغانستان بگونۀ سرتاسری و همه‌شمول برگزاد نشود؛ اما در مناطق تحت کنترول دولت افغانستان با تمام مشکلات و تهدیدات امنیتی مردم در انتخابات اشتراک نمودند و به افراد مورد نظر خویش رأی دادند. بخصوص در روزهای رأی‌دهی، از همان آغاز پروسۀ رأی‌دهی به شمول پایتخت در بسیاری مناطق دیگر کشور مخالفین مسلح دولت بر مراکز رأی‌دهی حمله نمودند و تنها در شهر کابل چندین انفجار صورت گرفت که در نتیجۀ آن ده‌ها فرد ملکی کشته و زخمی شدند.

با توجه به این وضعیت، تلفات ده‌ها فرد ملکی در جریان پروسۀ رای‌دهی و رفتن مردم به پای صندوق‌های رای، با قبول کردن تهدیدهای کشته شدن، ایجاب می‌کند که برای تامین شفافیت و عدالت در بررسی تقلبات، کارهای لازم و موثر صورت گیرد و به آرای مردم احترام گذاشته شود. هزارها شکایتی که در رابطه به تخطی‌ها و تقلب در روند رأی‌دهی به کمیسیون شکایات انتخاباتی رسیده است، بگونۀ بی‌طرفانه و واقع‌بینانه مورد بررسی قرار بگیرد.

بنابراین، اگر کمیسیون‌های انتخاباتی بخصوص کمیسیون شکایات انتخاباتی با در نظر داشت تمام شکایات موجود در رابطه به تقلب، بی‌نظمی و مداخلهٔ زورمندان در پروسهٔ رأی‌دهی، آرای پاک و ناپاک را از هم جدا نکند و بشکل سلیقوی با این قضیه برخورد کند، از یک‌سو مشروعیت این انتخابات زیر سوال خواهد رفت و احتمال جنجالی شدن آن وجود خواهد داشت و از جانب دیگر به اعتماد موجود مردم افغانستان بر پروسه‌های انتخابات عمیقا تاثیر منفی خواهد گذاشت.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com